# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مباد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



امین بسمل


۲۵ سپتمبر ۲۰۱۱



یو فتنه غوندې رهبر و په ورځ مل و دشپې غل
هم شهید شو هم غازي شو هم دسولې شو اتل
په مقام او په چوکۍ پسې لا لهانده و تر مړینې
د مذهب او قومیت نیلي یې دواړه ځغلول
یوه ورځ مو چېرې ونه لید چې خاورې وې پرې ناست وي
نه مو ولید په خپل عمر هسې یو ځل په مرچل
له شماله تر سویله له ختیځه تر لوېدیځه
دنفاق اوریتې ور واچاو ورونو ورونه ووژل
دزمزم په اوبو پاک نه شو هر څو یې که پرې توی کړې
له لمنې ترغورو و رنګ په وینو دکابل
په ظاهر به یې خوله ویته وه نیولې و هرچا ته
په باطن لوی منافق و سکنی ورور دچرچل
هوښیارتوب او مکار توب دواړه یو نه دي سره بېل دي
دچالاکې مرغۍ وي اخېر په دوو لومو اجل
د رمې لپاره هر څوک ګلالۍ شپونکی پیدا کړي
خو کرزي صاحب لېوه باندې زموږ ګډیان ساتل

پاچا بند په پنجرو کې را وتی نه شي بهر
جنازې ور وړې حرم ته پې را ټول شي لکه دل
دوزیر اکبر په مټ کې یې دبوی مرئ کړه خښه
یتیمان شول ټول خوابدي له کابله تر زابل
ها په ځان پورې ترلې دکولاب چوکۍ یې څه شوه
هغه هم وروړئ چې بیا پسې را جګ نه شي په چل
پېر یې نه و زده پلورل یې په زانګو کې و زده کړي
دوطن په خرڅولو کې لمړی شو تر کارمل
شهیدان به یې نن شپه په کانو ولي په لحد کې
ټوپکیان به ورتلای نه شي بس پرې جوړ به وي غوبل
خدایه تا ته مې توبه ده ته غفار یې ته قهار
قاتلان نېست اونابود کړه چې را خوشی شي محل
هم یې مړ کړ هم پرې ژاړي خپل خړ سترګي لندغر یې
سبوتاژ په سبوتاژ پسې پر مخ وړي مسلسل
رښتیا هم کډه یې بار شوه او که خوب مې دی لیدلی؟
عجیبه ده کور یې خپل سپاهي، وزیر، پاچا یې خپل
آزان وشو دلمانځه وخت دی دا دوه رېنیان درواخلئ
عبدالله او امرالله ښیم جومات به کړي چټل
چې دپلار اونیکه ملک خرڅوي ځوک په اجنبیانو
ای بسمله دهغو سزأ ده دار ته خېژول
یو فتنه غوندې رهبر و په ورځ مل و دشپې غل
هم شهید شو هم غازي شو هم دسولې شو اتل